# په کابل ولایت کې د پیازو اقتصادي تحلیل

عبدالباقي احمدزی، قیس فضلی، الهام الله رحیمی، سهیل رحمانی، خلیل الرحمن صمدی، وحدت الله محمودی
د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې، کرنې پوهنځې، کابل پوهنتون
ایمیل: hefd.ahmadzai@gmail.com

**لنډیز**

پیاز په افغانستان کې په پراخه توګه کرل کیږي چې په کرنه کې اساسي رول لوبوي. د دې څېړنې اصلي موخه په کابل ولایت کې د پیازو د تولید اقتصادي تحلیل او د بزګرانو ستونزو ته کتنه ده. ارقام د جوړو شویو پوښتنپاڼو په واسطه د کابل ولایت په څلورو ولسوالیو کې د ۱۸۰ بزګرانو څخه راټول شوي او یاد ارقام د اېکسل پروګرام څخه په استفاده تحلیل او تجزیه کړل شوي دي. د څیړنې پایلې څرګندوي چې له هر جریب ځمکې څخه په اوسط ډول ۱۰۸۴ منه پیاز لاسته راځي، هېره دې نه وي چې د یو من پیازو قیمت په اوسط ډول په ۷۵ افغانۍ حساب شوی دئ. د ۳۹۲۱۹ افغانۍ مجموعي لګښت سره له هر جریب ځمکې څخه ۸۱۳۰۰ افغانۍ ناخالص او ۴۲۰۸۱ افغانۍ خالص عاید لاسته راځي. په هر جریب ځمکه کې د پیازو د تولید لګښت (د ځمکې اجاره ۲۲ سلنه، د ځمکې آماده کول ۳,۵۱ سلنه، د پیازو تخم ۹,۵۹ سلنه، د سرو استعمال ۴۲,۱۸ سلنه، خړوبول ۲,۹۰ سلنه، د امراضو مخنیوی ۴,۹۳ سلنه او د کاریګرو لګښت ۱۴,۲۲ سلنه وو). په کابل ولایت کې ۵۶,۶۶ سلنه سره پیاز او ۴۳,۳۳ سلنه بیا طلایې پیاز کرل کیږي، د بزګرانو اساسي ستونزې چې په دغه څېړنه کې د لیکرت مقیاس تحلیل پر اساس باندې په منظمه توګه تحلیل شوې چې د بزګرانو خراب اقتصادي وضعیت، د سړو خونو، د مناسب مارکېټ، د کروندې د چمتو کولو لپاره د وسایلو، د اصلاح شویو تخمونو، د اوبو او د کیمیاوي سرو کموالی په نښه شوي دي.

**کلیدي ټکي:** د پیازو د تولید لګښتونه، د پیازو عواید، د بزګرانو ستونزې

# Production and Economic Analysis of Onion in Kabul Province

Abdul Baqi Ahmadzai Qais Fazli, Elhamullah Rahimi, Sohail Amairi, Khalilurahman Samadi, Wahdatullah Mahmoodi
Agricultural Economics and Extension Department, Agriculture Faculty, Kabul University

**Abstract**

Onion is widely grown in Afghanistan; it plays a fundamental role in agriculture sector. The main purpose of the research was to study the production and economic analysis of onion and to investigate the problems of onion producers. The data was obtained using random sampling techniques from a sample of 180 onion producers through a farm survey in four districts of Kabul province. Descriptive statistical tools and Likert Scale were used for the analysis. The results revealed that, on an average, 1084 sire (1 sire = 7 kg) onion is produced per Jerib (1 j= 0.2 ha.) The average price of onion received by farmers was 75 Afg per sire. The average total gross income, production cost and net income were 81300, 39219 and 42081 Afg, respectively per Jerib of onion. Production costs were land rent (22%), land preparation through tractor (3.5%), onion seed (9.6%), fertilizers (42.2%), irrigation cost (2.9%), chemical (4.9%), and wages (14.3%). Main problems of onion growers were noted as weak economic status of farmers, lack of cold storage, market problems, inadequate access to certified seed, water, high quality fertilizers.

**Key words**: Onion Production Cost, Onion Income, Famers Problem

**سریزه**

پیاز د Liliaceae کورنۍ یو له خورا مهمو سبزیجاتو څخه شمېرل کېږي چې په ورځنۍ ژوند کې په لوړه کچه ګټه ترې اخېستل کېږي چې علمي نوم یې *Allium cepa* او د *Allium* له جنس څخه د کښت له نظره یې په ۱۹۷۷ کال کې د ۲۲ سبزیجاتو له ډلې څخه څلورم مقام خپل کړی دئ( ۷). پیاز په خپل ترکیب کې ۸۷,٦ سلنه اوبه، ۱,۳ سلنه پروتین، ۰,۳ سلنه غوړي، ۵,٦ سلنه کاربوهایدریت او ۳,۱ سلنه سلولوز لری (٦). پیاز په ریګي خاورو کې ښه حاصل ورکوي، د افغانستان خاوره د پیازو د کښت لپاره مناسبه ده او ښه حاصلخیزه ځمکه شمېرل کېږي، چې په ټول هېواد کې تقریباً ۸۰ سلنه تولیدات تشکیلوي، په ۱۴۰۱ هـ. ش کال کې د پیازو تولید مقدار (۵۴۱۲۲۵) ټنه اټکل شوی وه، او په همدغه کال بیا (۳۰۴۷۰ ) هکتاره ځمکه د پیازو کښت لاندې وه. د پیازو ډېری کروندې ننګرهار، پروان، فراه، تخار، کابل، کندهار، هلمند، نیمروز او بلخ ولایتونو کې شتون درلود(۱۳). چین، هند، متحده ایالات، مصر او ترکیه د نړۍ تر ټولو لوی د پیازو تولیدونکې هېوادونه دي (FAO, 2024). کابل ولایت د پیازو کښت لپاره مناسب دی او پیاز په دغه ولایت کې ښه حاصل ورکوي خو پیاز اوس هم په دغه ولایت کې په عنعنوي شکل باندې کرل کیږي. بزګران نشي کولې چې د خپل خوښې عاید ورڅخه لاسته راوړي، ځکه دوې په زیاته توګه تولیدي عواملو څخه استفاده کوي. موږ هر کال د پیازو قیمت بې ثباتې سره مخ یو چې دغه قیمت یې په مختلفو وختونو کې تغېر کوي او نظر د سیمي هېوادونو ته په افغانستان کې د پیازو تولیدات کم دی (۱۳، ۱۴). نو په دی اساس په کابل ولایت کې د پیازو اقتصادي تحلیل تر عنوان لاندې څېړنه د بزګرانو سره مرسته کوي ترڅو وکولی شي چې د کمو منابعو او تولیدي عواملو څخه په استفاده زیاته ګټه لاسته راوړي، او خپل لګښتونه پوره کړي. په کابل ولایت کې د پیازو اقتصادی تحلیل لپاره تر اوسه په دقیق ډول څېړنه نه وه ترسره شوي، چې عواید او لګښتونه په فې جریب ځمکه کې په روښانه توګه معلوم کړي. د دغې څېړنې بنسټیزه موخه د پیازو د تولید اقتصادی تحلیل(تولید، د تولید لګښت، د تولیدي عواملو د استعمال اندازه، خالص او ناخالص عواید په فې جریب ځمکه کې، د یو من پیازو قیمت په کرونده کې، د څېړنې ساحه کې د یو کاریګر مزد پیدا کول او د کابل ولایت د بزګرانو ستونزې) په څېړنه کې شامل دي.

**د نمونې اخیستنې او ارقامو راټولولو طریقه او میتودولوژي**

دا څېړنه په کابل ولایت کې تر سره شوي ده، په دغه ولایت کې ډول ډول محصولات تولیدیږي چې یو د هغو له جملې څخه پیاز دي، په دغه څېړنه کې د څېړنې ارقام ذکر شوی ولایت په څلورو ولسوالیو کې د ۱۸۰ کسان بزګرانو( پیازو کرونکي) څخه د مخامخ مرکې او پوښتنپاڼې څخه په استفاده راټول شوی دي، د بزګرانو د انتخاب لپاره له ساده اتفاقي نمونه اخیستنې څخه استفاده شوي ده. همدارنګه د څېړنې ساحه کې د عمومي معلوماتو لپاره د سیمي ترویج مامورینو، د مخورو بزګرانو او د مؤسساتو کارکونکو سره په ګروپي شکل مشوره او بحث تر سره شوی. د یادونې وړ ده چې مخکې د څېړنې د ترسره کولو پوښتنپاڼه د لس تنه بزګرانو په واسطه په ساحه کې ازمایښت شوي ده. راټول شوي ارقام د اکسل پروګرام ته داخل او د توصیفي احصائیه په میتودونو باندې تحلیل او تجزیه شوي. همدارنګه په ساحه کې د بزګرانو ستونزو پیژندل او د درجه بندي ټاکلو لپاره د Likert Scale څخه استفاده شوي ده.

**موندنې او بحث**

**د بزګرانو ټولنیز مشخصات**

د بزګرانو ټولنیز مشخصات عبارت له عمر، د زده کړې کچه، د بزګرانو د ځمکې نوعیت، د پیازو کښت لاندې د ځمکې اندازه. د (۱) جدول څخه ښکارې چې د بزګرانو عمر په اوسط ډول ۳۹ کاله، او د زده کړو کچه یې په اوسط ډول ۹ کاله دي. ښوونه او روزنه د ټیکنالوژۍ په قبلولو او خپرولو کې مهم رول لري، د بزګر وړتیا د نوښتونو او د محصول پیچلتیاوو سره مقابله او د

کروندې د کښت د فکتورنو زیاتوالي سره د بزګر د زده کړو په کچه کې زیاتوالي راځي (١٦). د ځمکې نوعیت ٦٥ سلنه اجاره ښوودل شویده، او د پیازو کښت لاندې ځمکه بیا ٦٠ سلنه بزګرانو دوه جریب ځمکه باندې پیاز کرلې دي (۱جدول).

**جدول ۱: د بزګرانو ټولنیز مشخصات، ۱۴۰۲ ه.ش کال**

| مشخصات | واحد | اوسط | میانه | لوړ حد | ټیټ حد | میزانې انحراف |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د بزګرانو عمر | کال | ۳۹ | ۳۵ | ۸۰ | ۲۱ | ۱۲.۳۹ |
| د بزګرانو د سواد کچه | کال | ۹ | ۷ | ۳٦ | ۰ | ۱۰.۳۱ |
| د بزګرانو د ځمکې نوعیت | جریب | ۲۲.۵ | ۲۱ | ۴۳ | ۷ | ۱۰.۴۴ |
| د پیازو لاندې د ځمکې اندازه | جریب | ۱۱.۲۵ | ۹ | ۲۴ | ۱ | ٦.۸۳ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

## په کرونده کې د یو من پیازو او کاریګر اوسط قیمت پیدا کول

د یو من پیازو اوسط قیمت په کرونده کې ۷۵ افغانۍ ده، چې دغه قیمت د بزګرانو لپاره نامناسب دی، خو بزګران مجبور دي، چې په همدغه قیمت یې خرڅ کړي، او د بزګرانو کاریګرو مزد په اوسط ډول ۳۱٦ افغانۍ وو، چې د کاریګرو مزدورۍ په څېړنه کې زیاته برخه تشکیلوه، چې په لګښت او عوایدو باندې د تاثیر درلودونکې دی (۲جدول). د پیازو تولید کې تر ټولو زیات د تولید عواملو څخه استفاده کیده، چې ډیره برخه لګښت یې د ځمکې اجاره او کاریګرو مزد وه.

**جدول ۲: د یو من پیازو اوسط قیمت، ۱۴۰۲ ه.ش**

| د پیازو تولید | واحد | اوسط | میانه | لوړ حد | ټیټ حد | میزانې انحراف |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د یو من پیازو قیمت | افغانۍ | ۷۵ | ۷۵ | ۱۰۰ | ۴۵ | ۱۳.۷۹ |
| د کاریګر مزد په کرونده کې | افغانۍ | ۳۱٦ | ۳۰۰ | ۴۰۰ | ۲۵۰ | ۳۲.۵ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

## د تولید اوسط او په فې جریب ځمکه کې د پیازو عواید او لګښت

د کابل ولایت د څلورو ولسوالیو د ارقامو راټولولو څخه دا معلومه شوه چې د فې جریب ځمکې څخه په اوسط ډول ۱۰۸۴ منه پیاز لاسته راځې، چې لوړ مقدار یې په ده سبز کې ۱۸۵۰ منه او کم مقدار یې په قره باغ کې چې حاصل یې ۵۰۰ منه پیاز فې جریب ځمکه څخه لاسته راغلې وو (جدول۳). په ده سبز ولسوالی کې د لوړ حاصل اساسی لامل دا وه چې اصلاح شوی ورایتی کرل کیدي. پاکستان د۱۳-۲۰۱۲ په اوږدو کې شاوخوا ۱۷۰۱,۱ ټنه پیاز تولید کړي، چې په یاد هیواد کې د پیازو اوسط حاصلات ۱۳,٦ هکتار/ټن وه(۵).

**جدول ۳: د تولید اوسط او په فې جریب ځمکه کې د پیازو عواید او لګښت کال ۱۴۰۲ ه.ش**

| شمیره | ولسوالې | تولید / من | د یو من قیمت | ناخالص عاید (افغانۍ) | مجموعې لګښت ( افغانۍ) | خالص عاید ( افغانۍ ) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | قره باغ | ۱۰۷۷ | ۷۴ | ۷۹٦۹۸ | ۴۰٦۴۵ | ۳۹۰۵۳ |
| ۲ | موسهې | ۱۲۳۰ | ۸۰ | .۹۸۴۰۰ | ۳۷۱۰۷ | ٦۱۲۹۳ |
| ۳ | پغمان | ۹۲۹ | ۸۵ | ۷۸۹٦۵ | ۴۱۳۲۰ | ۳۷٦۴۵ |
| ۴ | ده سبز | ۱۰۹۸ | ٦۳ | .٦۹۱۷۳ | ۳۷۵٦۴ | ۳۱٦۰۹ |
| | په اوسط ډول | ۱۰۸۳ | ۷۵ | ۸۱۵۵۹ | ۳۹۱۵۹ | ۴۲۴۰۰ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

۳ جدول دا ښيي چې د پیازو تولیدات په هره ولسوالۍ کې فرق لري، او د یومن پیازو قیمت په کرونده کې ۷۵ افغانۍ دی، د پیازو تولیداتو کموالۍ او زیاتوالۍ مختلف لاملونه لري، چې د پیازو په تولید باندې تاثیر لري، دبیلګی په توګه اصلاح شویو تخمونو څخه استفاده، د کیمیاوي او حیوانۍ سرو څخه استفاده او کرنیز تناوب هم ډیر رول لوبوي. د فې جریب ځمکه څخه په اوسط ډول ناخالص عاید ۸۱۵۵۹ افغانۍ مجموعې لګښت ۳۹۱۵۹ افغانۍ او خالص عاید ۴۲۴۰۰ افغانۍ لاسته راځي.

## د پیازو د تولید لګښت

د هر محصول د تولید لګښت کې د لګښت ټول ډولونه شامل دي لکه ثابت لګښت، متغیر لګښت ، د بازار موندنې لګښت او داسي نور(۵). د پیازو د تولید لګښت کې د ځمکې اجاره، د ځمکې آماده کول، د پیازو تخم، حیوانی سره، تور کود، سپین کود، اوبو لګول، امراضو کنترول او د کاریګرو مزد اړتکل شوی.

**جدول ۴: په فې جریب ځمکه کې د پیازو مجموعې لګښت، ۱۴۰۲ ه.ش**

| شمیره | د تولید عوامل | واحد | تعداد | فې واحد قیمت | مجموعې لګښت | د لګښت سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځمکې اجاره | افغانۍ | ۱ | ۸۸۷۳ | ۸۸۷۳ | ۲۲.۰۰ |
| ۲ | د ځمکې آماده کول | ساعت | ۱.۷ | ۸۱۱ | ۱۳۷۹ | ۳.۵۱ |
| ۳ | د پیازو تخم | کیلو گرام | ۲ | ۱۸۸۰ | ۳۷٦۰ | ۹.۵۹ |
| ۴ | حیوانې سره | موټر | ۲.۴ | ۱۹۰۹ | ۴۵۸۲ | ۱۱.٦۸ |
| ۵ | تور سره | کیلو گرام | ۵۲.۸ | ۱۱۲ | ۵۸۸۹ | ۱۵.۰۱ |
| ٦ | سپین سره | کیلو گرام | ۱۳۵ | ۴۵ | ٦۰۷۵ | ۱۵.۴۸ |
| ۷ | اوبه لګول/ جنراتور | ساعت | ۲.۲ | ۵۱۷ | ۱۱۳۸ | ۲.۹۰ |
| ۸ | د امراضو کنترول | بوتل | ۲ | ۹٦۸ | ۱۹۳٦ | ۴.۹۳ |
| ۹ | د کاریګر مزد | نفر | ۱۸.۳ | ۳۰۵ | ۵۵۷۸ | ۱۴.۲۲ |
| | مجموع | ۸.۳۹۲۱۹ | | | | ۱۰۰ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

د ۴ جدول څخه معلومیږي چې د فې جریب پیازو کښت لپاره په زیاته اندازه لګښتونه شتون لري چې په لومړي قدم کې د ځمکې اجاره ۲۲ سلنه برخه تشکېلوي، په دوهم قدم کې کیمیاوي سرې قرار لري، او وروسي د کاریګرو مزد دي. د ځمکې آماده کول په تراکتور باندې ۱,۷ ساعت کې، اوبه لګول ۲,۲ ساعتونو کې، حیوانې سره ۲,۴ موټره، د مرضونو لپاره دوا ۲ بوتله، په عمومی توګه د پیازو د تولید لپاره په فې جریب ځمکه کې په زیاته اندازه لګښت کیږي.

## په فې جریب ځمکه کې د تولیدې عواملو څخه استفاده

تولیدې عوامل په فې جریب ځمکه کې په زیاته اندازه باندې په مصرف رسیږي، په دغه څیړنه کې دا معلومه شوه چې د کابل ولایت بزګران د زیاتو تولیدې عواملو په مصرف باندې په کمه اندازه  محصول لاسته راوړي. د تولید عوامل ( د پیازو تخم، حیوانې سره، تور کود، سپین کود، د مرضونو دوا، تراکتور، اوبه لګول او د کاریګر مزد) چې د پیازو په کښت کې ورڅخه استفاده کیږي.

**جدول ۵: په فې جریب ځمکه کې د تولیدي عواملو څخه استفاده په کال ۱۴۰۲ ه.ش**

| مشخصات | واحد | اوسط | میانه | لوړ حد | ټیټ حد | میزاني انحراف |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تراکتور | ساعت | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۰ | ۴۲۰۰ | ۷۰۰ | ۵۸۵,۸۲ |
| د پیازو تخم | کیلو گرام | ۳۵۵۲ | ۳۳۵۰ | ۷۵۰۰ | ۱۵۰۰ | ۱۱۷۴,۹۳ |
| حیواني سره | موټر | ۴۵۸۳ | ۱۷۵۰ | ۹۰۰ | ۰ | ۲۴۱۹,٦٦ |
| تور سره | کیلو گرام | ۵۸۸۹ | ۴۳۰۰ | ۸۲۵۰ | ۱۳۰۰ | ۱۹۵۰,٦۵ |
| سپینه سره | کیلو گرام | ٦۰۷۵ | ۵۲۰۰ | ۱۲۵۰۰ | ۰ | ۲۰۷۳,۰۵ |
| جنراتور اوبه | ساعت | ٦۱۵ | ۷۵۰ | ۴۰۰۰ | ۰ | ۳۸۲,۵۷ |
| د امراضو دوا | بوتل | ۱۹۳۰ | ۱٦۹۰ | ۴۵۰۰ | ۲۴۰ | ۸۸۹,۴۸ |
| د کاریگر مزد | نفر | ۱۹۳٦ | ۱۹۵۰ | ۱۰۱۴۰ | ۱۵۰ | ۱۸۷۳,۹۴ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

د پیازو د کښت لگښتونه په فې جریب ځمکه کې په لاندې توگه معرفې شوي

**د ځمکې اجاره:** په اوسط ډول د پیازو کرلو لپاره یو جریب قیمت ۸۸۷۳ افغانې ارزښت درلود. که څه هم د څېړنې په ساحه کې د ځمکې اجاره ډېره عامه وه، او هم بزگران د پیازو کرلو لپاره د شخصی او د دهقانی ځمکو څخه استفاده کوله (۴ جدول).

**د ځمکې چمتو کول**: د ځمکې چمتو کول د لویو او کوچنیو ټراکټورونو په واسطه ترسره کیږي. په ځینو ځایونو کې، ځمکه د غواگانو په واسطه آماده کیده. د (۴) جدول ارقامو څخه معلومیږي چې په اوسط ډول یو جریب په ۱,۷ ساعتونو کې او فې ساعت قیمت په ۸۱۱ افغانې، چې مجموعي لگښت یې ۱۳۷۹ افغانې کیږي، او د لگښتونو ۳,۵۱ سلنه برخه تشکیلوي.

**د پیازو تخم:** په کابل ولایت کې په فې جریب ځمکه کې بزگرانو په اوسط ډول ۲ کیلو گرام د پیازو تخم څخه استفاده کوي، چې د فې کیلو تخم قیمت ۱۸۸۰ افغانې او مجموعی لگښت د پیازو تخم په فې جریب کې د ۳۷٦۰ افغانیو په ارزښت وه، چې د څېړنې ۹,۵۹ سلنه برخه تشکیلوي. د (۵) جدول ارقامو په اساس د پیازو تخم حد اکثر ۷۵۰۰ او حداقل ۱۵۰۰ کیلو گرام په یو جریب کې صفت شوي دی.

**تور کود ( DAP ):** توره سره په حقیقت کې د ډای امونیم فاسفیت سرې دي، چې د فاسفورس عنصر څخه بډایه دي. دا سرې د نبات د ریښو په تولید او په نباتاتو کې د انرژي میټابولیزم په ښه کولو کې مهم رول لوبوي. توره سره چې د فاسفورس عنصر ښه منبع دی، کولای شي چې د نبات د آفتونو او ناروغیو په وړاندې ساتنه وکړی او د پیازو په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی لامل گرځی. د (۴) جدول د معلوماتو په اساس توره سره په فې جریب ځمکه کې په اوسط ډول ۵۲,۸ کیلو گرام توره سره یا امونیم فاسفیت څخه استفاده کیږي. چې د فې کیلو گرام قیمت په اوسط ډول ۱۱۱,۵۳ افغانې او مجموعې لگښت یې ۵۸۸۹ افغانې په فې جریب ځمکه باندې راځي، او د څېړنې ۱۵,۰۱ سلنه برخه تشکیلوي(۵ جدول).

**سپین کود ( یوریا ):** سپین کود یا یوریا درلودونکې کود هغه چې ډېر زر په آوبو کې حل او نبات ته ځان ور رسوي، د (۴) جدول څخه څرگندیږي چې په فې جریب ځمکه کې په اوسط ډول ۱۳۵ کیلوگرام سپین کود مصرف کیږي، چې د فې کیلو قیمت په اوسط ډول ۴۵ افغانې او مجموع د ٦۰۷۵ افغانیو په ارزښت باندې بزگران سپین کود په مصرف رسوي، چې د څېړنې ۱۵,۴۸ سلنه برخه تشکیلوي.

**حیواني سره:** په کابل ولایت کې بزګران حیواني سره زیاته استعمالوی، بیه یي نظر تور او سپینو سرو ته ارزانه تمامیږي، د (۴) جدول ارقامو په اساس په اوسط ډول په یو جریب ځمکه کې ۲,۴ موټره حیواني سره استعمالیږي، او د یو موټر حیواني سرې قیمت په اوسط ډول ۱۹۰۹,۲۷ افغانۍ کیږي، چې مجموعی لګښت یي په فې جریب ځمکه کې ۴۵۸۲ افغانیو ارزښت ته رسیږي، او د ځیړنې ۱۱,۶۸ سلنه برخه تشکیلوي(۵ جدول).

**د امراضو کنترول:** د پیازو کروندې خوشبختانه اکثره وخت د مرضونو او آفاتونو څخه په آمان وی، خو په بعضو حالاتو کې مرضونه د پیازو په کرونده اغیز کوي، په کابل ولایت کې بزګران د پیازو په کرونده کې د رنګا رنګ دواګانو څخه استفاده کوله چې د بوتل، پلاستیک او پوډر شکلونو کې وي. په فې جریب ځمکه کې په اوسط ډول ۲ بوتله دوا چې د فې بوتل قیمت ۹۶۸ افغانۍ کیده او مجموعي قیمت یي ۱۹۳۶ افغانۍ کیږي(۴ جدول).

**د اوبولګول:** په کابل ولایت کې اوبه ورځ تر بلې د کمیدو خواته رواني دي، چې بزګران یې له زیاتو ستونزو سره مخ کړي. په نوموړي ولایت کې اکثره اوبو لپاره د لمریزي بریښنا او ژورو څاګانو څخه استفاده کیږي، خو په بعضو حالاتو کې بیا بزګران اوبه په ساعت وار شکل د بلې څاه څخه د پیسو په مقابل کې اخلي، چې په اوسط ډول فې جریب ځمکه ۲,۲ ساعتونو کې اوبه کیږي، چې هر ساعت اوبه ۵۱۷ افغانۍ او مجموعه یي ۱۱۳۸ افغانۍ باندې تمامیږي، او د ځیړنې ۲,۹۰ سلنه برخه تشکیلوي (۴ جدول).

**د کاریګر مزد:** په دغه ځیړنه کې د کاریګر مزد یو له مهمو لګښتونو څخه ګڼل کیږي. کاریګران د کروندې په مختلفو کارونو باندې بوخت وي، چې د هغه له جملې څخه د اوبو لګولو، پیازو راټولولو، د پیازو نیالګې کینول، د حیواني سرو انتقال ، کروندې ته د سرو ورکول او د ځمکې خیشاوه. دا هغه لګښتونه دي چې بزګران مجبور او مکلف دي تر څو دغه برخې ته کاریګر ونیسي، د پیازو نبالګې کینولو مجموعي لګښت ۱۶۴۳,۲ افغانۍ او ۲۸,۱۰ سلنه برخه، د حیواني سرو انتقال مجموعي لګښت ۳۱۶ افغانۍ چې دځیړنې ۵,۴۰ سلنه برخه، اوبه لګول چې مجموعې لګښت یې ۶۳۲ افغانۍ او د ځیړنې ۱۰,۸۱ سلنه برخه، د ځمکې خیشاوه چې لګښت یې ۱۶۷۴,۸ افغانۍ او د ځیړنې ۲۸,۶۴سلنه برخه، د پیازو راټولولو مجموعې لګښت ۱۵۸۰ افغانۍ چې د ځیړنې۲۷,۰۲ سلنه برخه یې تشکیلوي(۴ جدول).. او په اوسط ډول د کاریګرو مزد په کرونده کې ۳۱۶ افغانۍ ټاکل شوي ده (۲ جدول).

**جدول ٦: د کاریګرو مزد فیصدي د پیازو تولید په لګښت کې، ۱۴۰۲ ه.ش**

| شمیره | فعالیتونه | د نفرو تعداد | فې نفر مزد افغانۍ | د کاریګر مجموعې لګښت | د لګښتونو فیصدي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پیازو نیالګې کینول | ۵.۲ | ۳۱۶ | ۱۶۴۳.۲ | ۲۸.۱۰ |
| ۲ | د حیواني سرو انتقال | ۱ | ۳۱۶ | ۳۱۶ | ۵.۴۰ |
| ۳ | اوبه لګول | ۲ | ۳۱۶ | ۶۳۲ | ۱۰.۸۱ |
| ۴ | د ځمکې خیشاوه | ۵.۳ | ۳۱۶ | ۱۶۷۴.۸ | ۲۸.۶۴ |
| ۵ | د پیازو راټولولو لګښت | ۵ | ۳۱۶ | ۱۵۸۰ | ۲۷.۰۲ |
| | مجموع | ۱۸.۵ | ۳۱۶ | ۵۸۴۶ | ۱۰۰,۰۰٪ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

**د بزګرانو ستونزې**

د کابل ولایت بزګران په عمومی توګه د زیاتو ستونزو او مشکلاتو سره لاس او ګریوان دي. د بزګرانو ستونزې د Likert Scale په طریقه باندې تحلیل او تجزیه شوي دي. چې دغه ستونزې په لوړه کچه، متوسطه کچه او ټیټه کچه باندې تقسیم شوي دي، په پوښتنپاڼه کې د بزګرانو ستونزو لپاره ځانګړې ځاي ورکړل شوي وو، دا ډول ستونزې د بزګرانو په تولیداتو باندې زیات تاثیر لرونکې دي. د دغه ستونزو د له منځه وړلو لپاره باید کوم اقدامات او کړنې ترسره شي، تر څو بزګران نور هم تشویق او کرنې ته په پراخه او دوامداره توګه ادامه ورکړي.

**جدول ۷: په کابل ولایت کې د بزګرانو ستونزې ۱۴۰۲ ه.ش**

| شمیره | د بزګرانو ستونزې | ټیټه کچه | متوسطه کچه | لوړه کچه | مجموعې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د بزګرانو خراب اقتصادي وضعیت | ۴ | ٦٨ | ۱۰۸ | ۱۰۰ |
| ۲ | د سرو خونو نشتوالې | ۴ | ۴ | ۱۷۲ | ۱۰۰ |
| ۳ | اصلاح شویو تخمونو ته نه لاسرسې | ۳۹ | ۳۵ | ۱۰٦ | ۱۰۰ |
| ۴ | د کروندې کوچینوالې | ۳۹ | ۷٦ | ٦۵ | ۱۰۰ |
| ۵ | د مارکیت نشتوالې | ۱۷ | ۲۰ | ۱۴۳ | ۱۰۰ |
| ٦ | د اوبو کموالې | ۳۳ | ۱۳۷ | ۱۰ | ۱۰۰ |
| ۷ | د ځمکې آماده کولو د وسایلو کموالې | ۴۳ | ۷٦ | ٦۱ | ۱۰۰ |
| ۸ | د کیمیاوي سرو کموالې | ۴۵ | ۵۸ | ۷۷ | ۱۰۰ |

**سرچینه: د ساحې سروې (۱۴۰۲)**

د کابل ولایت بزګران له ډېرو ستونزو او ننګونو سره مخ دي، او باید دي ډول ستونزو ته په اساسې ډول کار وشي، تر څو بزګران خپل تولید او عواید اعظمې سطحې ته ورسوي، د دي ستونزو له جملې څخه د سرو خونو نشتوالې، د مارکیت نشتوالې، د بزګرانو خراب اقتصادي وضعیت، اصلاح شویو تخمونو ته نه لاسرسې، او همداسې نورې ستونزې هم شته چې بزګران ورسره مخامخ دي، لکه د اوبو کموالې، د کیمیاوي سرو کموالې، د کروندې کوچینوالې او د ځمکې وسایلو کموالې.

**پایلې**

پیاز د هیواد یو له مهمو کرنیزو محصولاتو څخه دی چې د خوراکي توکو د خوندیتوب او د بزګرانو د ژوند په ښه والي کې مهم رول لوبوي، اکثره یې په کلیوالو سیمو کې کرل کیږي. په کابل ولایت کې په اوسط ډول د پیازو تولیدات او ناخالص عواید ښه دي، مګر بزګران په زیاته اندازه باندي له تولیدې عواملو څخه استفاده کوي او د عوایدو زیاته برخه په تولیدې عواملو باندې په مصرف رسیږي، چې د ناخالص عاید تقریبا ۴۸,۲۳ سلنه کیږي. د څېړنې په ساحه کې د بزګرانو د سواد سطحه ډیره ټیټه ده چې کیدای شي د فارم په مدیریت ښه رول ولوبوی چې د څېړنې ۴۰ سلنه برخه تشکیلوي او د بزګرانو د ځمکې نوعیت اجاره، شخصې او دهقانی ځمکې وي، په دغه ولایت کې دوه ډوله پیاز (سره پیاز او سپین پیاز ) په زیاته اندازه باندې کرل کېږي چې په ترتیب سره د څېړنې ۵٦,٦۰ سلنه او ۴۳,۳۳ سلنه برخه تشکیلوي. او همدارنګه د کابل ولایت بزګران له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي چې د دوی د کښت او تولید د مخنیوي سبب کیږي. د څیړنې پایلو وښوده چې د بزګرانو خراب اقتصادي وضعیت، د سرو خونو، د مارکیت او د اوبو کموالې دا هغه بنسټیزې ستونزې وي چې بزګران ورسره لاس او ګریوان وه.

## سپارښتنې

په ذکر شوی ولایت کې له بزگرانو سره باید هر اړخېزه مرسته وشي تر څو وکولاي شي چې خپلو تولیداتو ته پراختیا ورکړئ.

- د بزگرانو سره باید د تولیدي عواملو په برخه کې مرسته وشي چې تولیدي عوامل په ارزانه بیه لاسته راوړي تر څو په ښه کیفیت پیاز تولید کړئ.
- د بزگرانو لپاره د قرضو او زراعتي بانکونو جوړول.
- د بزگرانو سره د ترویجي خدماتو په برخه کې مرسته او لیدنه کول.
- د دولت او موسساتو لخوا بزگرانو لپاره په معیاري ډول د پیازو ساتلو لپاره د سړو خونو جوړول.

## اخځونه


1. حسین‌خیل، م آ، صام س‌ع‌ا، عثمانی ب، یعقوبی س، شریفی ض، افضلی ف، احمدزی ن. مطالعهٔ تولید کچالو در ولایت میدان وردک. علم او فن- علمي څېړنیزه مجله، ۱۴۰۳؛ ۶۱(۲)، ۸۴-۷۳.
2. Abdelaziz H. Economics of onion production in the Northern part of Omdurman province, Khartoum State. Albuhuth. 2008; 12(1):42-51.
3. Agarwal PK, Kumar M. An economic analysis of onion cultivation in Giridih district of Jharkhand. Economic Affairs. 2018; 63(3):703-7.
4. Anjum A, Barmon BK. Profitability and comparative advantage of onion (*Allium cepa*) production in Bangladesh: An economic study in some selected areas. The Agriculturists, 2017; 15(2):66-78.
5. Alemu D, Kitila C, Garedew W, Jule L, Badassa B, Nagaprasad N, et al. Growth, yield, and yield variables of onion (*Allium Cepa* L.) varieties as influenced by plantspacing at DambiDollo, Western Ethiopia. Scientific Reports, 2022; Nov 29; 12(1):20563.
6. Baloch RA, Baloch SU, Baloch SK, Baloch HN, Ahmed S, Badini WB, et al. Economic analysis of onion (*Allium cepa* L.) production and marketing in district Awaran, Balochistan. Econ. Anal. 2014 ;5(24).
7. Bapari MY, Chowdhury MK, Haque ME, Al-Mamun A. Economic analysis of onion production in Sujanagar and Santhia areas of Pabna, Bangladesh. International Journal of Humanities and Social Science Invention, 2016; 5(10):5-12.
8. FAO. Food and Agriculture Organization statistical database, United Nations, Rome, Italy. www.faostat.org. March 2024.
9. Grema IJ, Gashua AG. Economic analysis of onion production along river Komadugu area of Yobe state, Nigeria. IOSR Journal of Agriculture and Veterinary Science (IOSR-JAVS), 2014; 7 (10):05-11.
10. Hasan K, Khalequzzaman KM. The economic impact of onion research and extension in Blangladesh: an ex-post analysis. Nippon J. Environ. Sci. 2018; 1:1020.
11. Kumbhar JS, Kumbhar JS, Naikwadi DG. Economics of production and marketing of Rabi onion in Pune district. MPKV, Rahuri, 2000; 25-40.
12. Kshash BH, Oda HK. Economics of onion production. Euphrates Journal of Agricultural Science, 2022; 14(2): 12-18.
13. MAIL. Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock, mail.gov.af. Acheave March 2020.
14. Poole N, Amiri H, Amiri SM, Farhank I, Zanello G. Food production and consumption in Bamyan Province, Afghanistan: the challenges of sustainability and seasonality for dietary diversity. International journal of agricultural sustainability, 2019; 17(6):413-30.
15. Sharma S, Singh NP. Performance of onion in Rajasthan-an economic analysis. Agricultural Situation in India, 2019; (3), 23.;36.
16. Yahaya K, Gindi AA, Buhari AK, Umar HA. Profit and Technical Efficiency Estimation of Onion Farms in Aliero Local Government Area of Kebbi State, Nigeria. Direct Research Journal of Agriculture Food Science, 2019;7(2):30-5.